# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

۱ سرطان _سال 1401


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

متن کامل اخبار ---------------------------------------------------------------------------------------------4
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر د ناصرو قوم له مشرانو او سپین ږیرو سره ولیدل --------------------------4
خانواده های بیجاشده و نیازمند در ولایت کابل مساعدت گردید -------------------------------------------------------5
د مهاجرینو چارو وزارت او (IOM) موسسي ترمنځ ګډه ناسته ترسره شوه -----------------------------------------5
بیش از 800 مهاجرافغان، ازایران وپاکستان به وطن برگشت نمود -------------------------------------------------6
یک مهاجر عراقی به دو سال حکم زندان به اتهام انتقال مهاجران محکوم شد ---------------------------------------7
د بشري حقونو څار سازمان له یو شمیر هیوادونو غوښتي چي د افغان کډوالو اجباري ایستل سمدلاسه و درووي -----10
له ایران څخه د افغان کډوالو د اخراج لړی چټکه شوی -----------------------------------------------------------11
سازمان ملل خواستار اسکان پناهندگان بیشتر در کشورهای مهاجرپذیر شد ---------------------------------------14

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر د ناصرو قوم له مشرانو او سپین ږیرو سره ولیدل

د وزارت ویب پاڼه



نن سه شنبه د غبرګولي ( ۳۱) مه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر ښاغلي خلیل الرحمن حقاني په خپل کار په دفتر کې د ولایتو د ناصرو قوم له مخورو مشرانو او سپین ږیرو سره ولیدل .

د لیدنې په پیل کې ګډونوالو خپل نظرونه او وړاندیزونه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له وزیر سره شریک کړل.

ښاغلي حقاني د ناصرو قوم د مهاجرینو د استازو او سپین ګیرو څخه مننه وکړه چې د مهاجرینو پروړاندې شته ستونزې او ننګونې یې له ده سره شریکې کړې او ډاډیې ورکړ چې، د ناصرو قوم په شمول ټولو راستنېدونکو، داخلي بېځایه شوو او اړمنو مستحقو کورنیو ستونزو ته به پر وخت رسیدګي وشي.

## خانواده های بیجاشده و نیازمند در ولایت کابل مساعدت گردید

ویب سایت وزارت



**برای 114خانواده بیجاشده و نیازمند، درمربوطات ولایت کابل به تاریخ 31 جوزا، ازطریق ریاست امور مهاجرین ولایت کابل کمک شد.**
**مساعدت یاد شده برای هرخانواده، مبلغ 24 هزار افغانی بود که از سوی مؤسسه (IRC) تهیه و ازطریق ریاست امورمهاجرین ولایت کابل بعداز سروی توزیع شد.**

## د مهاجرینو چارو وزارت او (IOM) موسسي ترمنځ ګډه ناسته ترسره شوه

د وزارت وېب پاڼه



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ترمنځ د همکارۍ ګډه ناسته د جوزا په ۳۱مه نیټه ترسره شوه.**

**په دې غونډه کې د مهاجرینو چارو د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس مولوي محمودالحق احدي په سرحدي سیمو کې د بېرته راستنېدونکو په ستونزو او خنډونو خبرې وکړې او ویې ویل: د سرپناه، غیرغذایي توکي او په سرحدونو کې د مهاجرینو د ثبت سیستم نشتون ټولې هغه ستونزې دي چې باید رسیدګي ورته وشي.**

**وروسته د (IOM) ادارې د بشري مرستو د رسولو مسوول عدنان "بګجتي" او د بېرته را ستنېدو د پروګرام مسوول مدیر نیکولاس "هیل" د نوموړې موسسې د مرستو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل: د دغې موسسې مرستې به دوامداره وي، د تېر کال په نسبت مو په روان کال کې مرستې زیاتې شوي دي.**

## بیش از 800 مهاجرافغان، ازایران وپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت



841نفر مهاجر مقیم ایران وپاکستان، به تاریخ 30جوزا طور اجباری و داوطلبانه به وطن برگشت نموده اند.
به اساس معلو مات آمر امور مهاجرین ولایت نیمروز، ازمیان 750 نفر که از طریق مرز میلک وارد کشور شده اند، 34 خانواده ، شامل 143 تن همراه با 340 تن افراد مجرد، طور اجباری و 25 خانواده شامل 102 تن همراه با 165 تن مجرد داوطلبانه برگشت نموده بودند.
به گفته منبع ازآن میان، 59 خانواده شامل 116 مرد و 129 زن همراه با 462 تن مجرد غرض دریافت کمک، به دفتر IOMمعرفی شدند.
طبق یک خبر دیگر،16 خانواده شامل91 نفر مهاهر مقیم پاکستان، ازطریق مرز سپین بولدک، به کشور برگشته اند.
ازجمله خانواده های یادشده 2 فامیل که شامل 10 تن، دارای مدرک و 14 فامیل شامل 81 تن دیگر فاقد مدرک بودند.

## یک مهاجر عراقی به دو سال حکم زندان به اتهام انتقال مهاجران محکوم شد

مهاجر نیوز

علی محمد مهاجرعراقی هنگام رانندگی یک کامیون در نزدیک یوروتونل در شمال فرانسه دستگیر شد. در این کامیون ۳۹ مهاجر سوار بودند که قصد رفتن غیرقانونی به انگلستان را داشتند. به همین دلیل دادگاه وی را به اتهام انتقال غیرقانونی این مهاجران به دو سال زندان محکوم کرد .



حکم دو سال زندان از سوی دادگاه بولونی سور مر در شمال فرانسه، روز دوشنبه ۲۰ جون برای علی محمد به اتهام انتقال غیرقانونی مهاجران به انگلستان صادر شد. به گزارش رسانه له ووه دونور این جوان ۱۹ساله عراقی چند روز قبل ۳۹ مهاجر را سوار یک کامیون کرده و آنها را به سمت انگلستان رهنمایی می کرد.

دستگیری این فرد یک هفته قبل به روز دوشنبه ۱۳جون اتفاق افتاد. در آن روز، افسران پلیس مرزی فرانسه، کامیون را با سرعت کم در بزرگراه خروجی یوروتونل مشاهده کردند. سپس به دنبال آن رفتند تا که کامیون را متوقف کنند اما راننده اعتنایی نکرد. پلیس سپس راننده را با چشم‌های بسته با دست کسی دیگری که در عقب نشسته می بیند.

سپس کامیون از تونل خارج می شود و به سمت دیگری می رود. ماموران پلیس دست به کار می شوند و در نهایت کامیون را متوقف می سازند و راننده را گرفتار می نمایند. پلیس با باز کردن دروازه های این وسیله نقلیه ۳۹ مهاجر را در داخل آن پیدا می کند.

به گفته این مهاجر عراقی، یک قاچاقبر از او خواسته بود تا کامیون را به سمت بریتانیا رانندگی کند. به گفته او، شخصی که در عقب کامیون نشسته بود قاچاقبر بوده و بر او فشار می آورد.

برخی مجبور می شوند تا قایق رانی مهاجران را به دوش گیرند

**شمال فرانسه، گذرگاه چندین هزار تبعیدی است که می خواهند به بریتانیا برسند. در آنجا دستگیری و محکومیت قاچاقبران به طور منظم انجام می شود. اما افرادی، مانند محمد علی، همیشه در راس شبکه های گسترده مهاجرت غیرقانونی نیستند.**

**برخی از مهاجران مجبورند در بدل یک مکان در قایق، قایق رانی را به عهده گیرند .دیگران نیز موافقت می کنند که آن شخص قایق مسافران را از کانال مانش عبور دهد .چندی پیش، محسن مهاجر ایرانی به مهاجرنیوز گفت: «ما ۲۰ تن ایرانی بودیم که یک خانم و یک مرد ترکی هم در جمع ما بودند. در گروه افرادی بودند که هزینه عبور را نداشتند. در عوض مجبور شدند قایق رانی کنند».**



خالد و یک مهاجر دیگر در کنار ساحل سلاک. عکس: مهاجرنیوز/ مهدی شبیل

**یک روز پس از غرق شدن کشتی در پایان نوامبر سال ۲۰۲۱ که در اثر آن ۲۷ تن جان خود را از دست دادند، فرانک دیرسن، معاون رئیس منطقه اوت دو فرانس در شمال فرانسه خواستار ردیابی شبکه قاچاقبران شده بود. به گفته او، برای جلوگیری از فعالیت قاچاقبران، باید سازمان های بزرگ و کسانی که در راس قرار دارند را گرفتار نمود.**

**هیوا رحیم پور مهاجر ۲۹ ساله که یک تبعه ایرانی است در چهارم می به جرم قاچاق مهاجران و دست داشتن به شبکه بزرگ قاچاق در لندن بازداشت شد. ژاک بیر مدیر تحقیقات منطقه یی در لندن در بیانیه ای گفت: «او نقش اصلی در بزرگترین شبکه های جنایی و اهدای قایق به قاچاقبران را دارد، به همین دلیل متهم است».**

به گفته وزارت کشور فرانسه، از ابتدای سال، با وجود تجهیزات و پرسونل کنترل در امتداد ساحل، ۲۰۱۳۲ تن تلاش کردند.

## د بشري حقونو څار سازمان له یو شمیر هیوادونو غوښتي چې د افغان کډوالو اجباري ایستل سمدلاسه و دروي

مهاجر نیوز



د بشري حقونو د څار سازمان ( امنیستی انترنیشنل) او یو شمیر نور بشري بنسټونو د یوې اعلامیي په خپرولو سره د پاکستان او ایران په ګډون له یو شمیر هیوادونو غوښتي چې د افغان کډوالو پر وړاندې تاوتریخوالی پاي ته ورسوي او په افغانستان کې د وضعیت تر ښه کیدو پورې دې په عاجل ډول د افغان کډوال اجباري ایستل و دروي.

د کډوالی د نړیوالې ورځې په مناسبت د بشري حقونو د څار سازمان په ګډون یو شمیر بنسټونو د جون په ۲۰ مه، د یوې ګډې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې په ایران، پاکستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکیه او مالیزیا کې ګڼ شمیر افغان کډوال له خپلو حقونو څخه برخمن نه دي او دوی له تاوتریخوالي، بد چلند او اجباري اخراج سره مخامخ دي.

د بشرى حقونو د څار سازمان په دغو هیوادونو کې د افغانانو د وضعیت په اړه د اندیښنې په ځرګندولو سره ویلي چې ډیرى دغه خلک د کار، سرپناه، زده کړې، مذهبي آزادي، محکمې ته لاسرسى، د تګ را تګ آزادي، د سفر اسنادو او نورو بشري حقونو په برخو کې له ستونزو سره مخامخ دي.

یاد سازمان ویلي چې په دغو هیوادونو کې یو شمیر افغانان په خپل سر زندان ته اچول شوي، مجازات شوي او په زوره ایستل شوي دي.

په یاده اعلامیه کې له دولتونو غوښتل شوي چې د ټولو هغو افغانانو لپاره چې د طالبانو لخوا ژوند یې له ګواښ سره مخامخ دی، له افغانستان څخه د خوندي سفر لپاره اړین ګامونه پورته کړي او خپلې پولې د دوی پر مخ پرانیزي. همدارنګه په اعلامیه کې راغلي چې له افغانستان څخه د دغو افغانانو د ایستلو له پروسې ملاتړ وکړي .

په اعلامیه کې له دولتونو غوښتل شوي:«تر هغه چې په افغانستان کې و ضعیت ښه شوی نه وي،په سمدستي ډول د افغان کډوالو او د هغو کسانو چې د پناه غوښتنې یې در شوي، اجباري ایستل ودروي او په دې اړه د ملګرونو ملتونو د کډوالو اداري غوښتنې ته پام وکړئ».

یادو بنسټونو پر نړیوالو غږ کړی چې د نړیوالو قوانیونو او کنوانسیونونو پر بنسټ دې د افغانانو د پناه غوښتنې او د ژوند حق ته درناوی وکړي او ټولو پناه غوښتونکو ته دې د پناه غوښتنې یو شفاف سیستم ته د لاسرسی زمینه برابره کړي تر څو دوی وشي کولای چې د پناه غوښتنې او بیا میشتیدنې حق ته لاسرسی و مومي.

له ترکیې او ایران څخه د افغانانو اجباري ایستل

د افغان کډوالو په اړه دغه اندیښنې په داسې مهال رامنځ ته کیږي چې په دې وروستیو کې ایران، ترکیه او پاکستان کې د افغان کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي ګڼ راپورونه خپاره شوي او په دې ورستیو کې ګڼ شمیر افغانان له ایران او ترکیې څخه په زوره ایستل کیږي.

د کډوالی نړیوال سازمان د یو راپور پر بنسټ ۱۸ افغانان له ترکیې څخه په چارټر الوتکو کې افغانستان ته اخراج شوي دي. سربیره پر دې له ایران څخه هم د افغان کډوالو اجباري ایستل دوام لري. په تازه کې سره د کډوالو او راستنیدونکو چار وزارت خبر ورکړی چې د شنبې په ورځ ۳۳۰ تنه افغانان له ایران څخه په زوره ایستل شوي دي.

د ملګرونو ملتونو د کډوالی اداري د شمیرو له مخې، په افغانستان کې د طالبانو له واکمنیدو وروسته شاوخوا ۲۵۰ زره افغانان پاکستان ته پناه وړې چې ګڼ شمیر یې غواړي د پاکستان له لارې لودیځو هیوادونو ته پناه یوسي.

## له ایران څخه د افغان کډوالو د اخراج لړۍ چټکه شوې

أزادی راډیو

د ایران د کورنیو چارو وزارت ویلي دي چې په دغه هیواد کې د افغان کډوالو د نوم لیکنې بهیر پای ته رسیدلی او له دې وروسته هر هغه افغان چې راجستر نه وي له دې هیواده ایستل کیږي. خو طالبان څه وایي؟



آرشیف انځور

ایراني رسنیو د امنیت او قانون په برخه کې د دې هیواد د کورنیو چارو وزارت د مرستیال په حواله خبر ورکړی دی چې د جون میاشتي له یوشتمي نېټې وروسته به نور هغه افغان کډوال له ایران څخه ایستل کیږي، چې له حکومت سره ثبت نه دي.

د ایراني مسئولینو په وینا: د مهاجرو د نوم لیکنې په پروسه کې تر دونیم میلیونه پوري افغانانو نوم لیکنه کړې، خو هغه کسان چې نومونه یې نه دي راجستر یا جرمي اسناد او د ترهګریزو ډلو نظریات پالي له ایران څخه ایستل کیږي.

د ایران په مشهد ښار کي افغان کډوال خلیل احمد دویچه ویله ته وویل چې له پرون راهیسي په زرګونه افغانان د دې هیواد بیلابیلو ښارونو کي نیول شوې او دا لړۍ په خورا سرعت سره روانه ده.

د ده په خبره چې په ایران کي میشت پنځوس سلنه افغان کډوال لاهم نه دي راجستر شوې، خو نیول یې پیل شوي دي: «د کډوالو د ثبت پروسه تکمیله شوې له پرون راهیسي د کډوالو نیول پیل شوې ډېر زیات کسان یې نیولي چې د کورنی خاوند ونیول شي ماشومان او مېرمن یې هم مجبوره دي ایران پرېږدي. دغه کار د کډوالو تر منځ سختي ستونزي جوړي کړي او ویره خپره کړې ده«.

**د ایراني مقاماتو په خبره په دې پروسه کې به سیاسي، ټولنیزو، فرهنګیان، پانګوال او مشهور شخصیتونه شامل نه وي، ځکه د هغوی د استوګني اسناد تمدید کیږي.**



**همداراز ویل شوې هغه افغان کارګر چې په ایران کې بې دندو ته اړتیا لیدل کیږې دوی به هم په ایران کې د پاتېدو چانس ولري.**

**بل لور د ایران له یزد ښار څخه افغان سوداګر عزت الله وایي دلته ډیري کورنۍ شته چې کلونه کیږې په ایران کي یې پانګونه کړي، اولادونه یې دلته په زده کړو او کار بوخت دي دار او ندار یې په ایران کي دی نو دارنګه نیول او افغانستان ته استول یې ډیر غټ ظلم دی: «واقعاً دي کار ډېر غبرګونونه را پارولي ځکه ویل کیږې هغه افغانان چې اسناد نه لري هغوی به په لنډ وخت کي له ایران څخه وایستل شي دا کار په اوسنیو شرایطو کي لوی فشار دی چې افغان کډوالو ورسره مخامخ دي که یې دوام پیدا کړ ډېر زیات مشکلات به رامنځته کړي».**

**بله خوا د طالبانو مرستیال ویاند بلال کریمي له دویچه ویله سره د خبرو پر مهال وویل په دې تړاو د دواړو هیوادونو ترمنځ خبري رواني دي، دوی هیله مند دي چې د افغان کډوالو په زوره ایستلو پروسه ودرول شي: »د ایران له حکومت سره زموږ اړیکي ښې او نورمالې دي. موږ داسې نه انګیرو چې ایران به داسې یو اقدام وکړي چې د مهاجرو له پاره ستونزي ایجاد شي د دواړو هیوادونو مسئولین په دې تړاو خبري کوي تر څو د تفاهم له لارې کډوالو ته دا زمینه برابره شي چې په خپله خوښه هیواد ته راستانه شي، ایران باید د اصولو او قوانینو په مراعاتولو سره داسې اقدام و نه کړي چې زموږ هیوادوال له ستونزو سره مخامخ شي».**

په ایران کې د افغان کډوالو د ثبت لړۍ هغه وخت پیل او دې هیواد ته د لا ډیرو کډوالو تازه څپه وخوځیده کله چې په افغانستان کې جمهوریت نسکور او طالبان واک ته ورسیدل.

## سازمان ملل خواستار اسکان پناهندگان بیشتر در کشورهای مهاجرپذیر شد

افغانستان انترنشنال

کمشنری عالی پناهندگان سازمان ملل می‌گوید که همزمان با افزایش میزان پناهندگان در سطح جهان، تنها یک بخش کوچک آنان در کشورهای مهاجرپذیر اسکان یافته اند.

به گفته این سازمان، در سال گذشته فقط ۳۹ هزار نفر از طریق ملل متحد به این کشورها انتقال داده شدند.

به نقل از خبرگزاری فرانس پرس، افغان‌ها پس از مردم سوریه، دومین جمعیت مهاجر در جهان بوده که خواستار اسکان در کشورهای مهاجرپذیر از طریق سازمان ملل اند. به گفته این سازمان، ۲۰۰ صد و ۷۴ هزار پناهنده افغان درخواست مهاجرت به کشور سومی را داده اند.

در حال حاضر، بخش بزرگ این پناهندگان در کشورهای ایران و پاکستان، با وضعیت حقوقی و اقتصادی ناروشن زندگی می‌کنند .آنها امیدوارند که سازمان ملل به اسکان شان در کشورهای غربی کمک کند.

در ماه اپریل، شماری از پناهجویان افغان در پاکستان در اعتراض به وضعیت ناروشن و کند بودن روند رسیدگی به وضعیت شان از سوی کمشنری عالی سازمان ملل در امور پناهندگان در مقابل دفتر این سازمان در اسلام‌آباد تظاهرات کردند .آنان با پوشیدن کفن، شعار "ما را بکشید" سر دادند و از سازمان ملل خواستند تا ثبت‌نام، توزیع کارت‌های مهاجرت و انتقال به کشورهای دیگر را تسریع کند.

این سازمان از کشورهای مهاجرپذیر خواست تا روند اسکان پناهندگان مستحق را بیشتر کنند. به خصوص که انتظار می‌رود بیش از دو میلیون نفر در سال آینده نیازمند اسکان در کشورهای مهاجرپذیر باشند.

بنا به آمار، بیش از ۲۷ میلیون نفر به عنوان پناهنده در جهان زندگی می‌کنند که اکثریت شان ساکن کشورهای فقییر اند.

در حال حاضر، تنها کشورهای امریکا، کانادا، آلمان، بریتانیا، آسترالیا و کشورهای اسکاندیناوی با کمشنری عالی پناهندگان در قسمت اسکان مهاجرین همکاری می‌کنند.